مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ

٢٠٢۶/٠۵/١١

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(څوارلسمه برخه)



د جنرال ضیاء شخصیت، ګیدړه او منګور (مار)

### پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګاني(١١)

### د جنرال ضیاء شخصیت

جنرال ضیاء چې د هندي پنجاب، پنجابی دی د انګرېز استعمار پر مهال یې په هند کې زده‌کړې کړي وې او د انګرېزانو په لاس یو روزل شوی پوځي افسر ؤ، لکه څرنګه چې د انګرېزانو پالیسي له فریب او خیانت ډکه وه، همدا شان د جنرال ضیاء پر شخصیت یې لوی اغېز کړی ؤ، انګرېزانو چې واک ته د رسیدلو او ساتلو لپاره هر ډول انساني اخلاق شا ته غورځولي وو او د ۱۵مې پېړۍ ایټالیاوي فیلسوف او سیاستوال **(نیکولو مکیاولي)** د سیاست پر پله روان وو، همداسې جنرال ضیاء هم هماغه لار نیولې وه.

**جنرال ضیاء د ګیدړې او منګور (مار) په څېر شخصیت درلود، هغه د ګیدړ غوندې، له ځان سره شمېرلي، احتیاطي او پټې تکتیکي موخې لرلې، تل یې له سیاسي چالاکیو، غولولو او درواغ ویلو کار اخیست.**
**جنرال ضیاء د منګور په څېر، ظاهراً غلی، پټ او په ورو حرکت کاوه، زمان او مکان ته په کتو یې ناڅاپي او خطرناک ګوزار کاوه.**

جنرال ضیاء چې د خلکو پر وړاندې تل موسکی ښکاریده او ډېر یې ځان مسلمان، مسلمان څرګنداوه خو د هغه په ظاهري خندا او ظاهري مسلمانۍ کې لویه غداري پټه وه، هغه چې یو پوځي او سیاسي کس ؤ، د خپلې ظاهري مسلمانۍ په څرګندلو او د دیني شعارونو په ویلو یې خپل سیاسي مشروعیت ټینګاوه. تر دې چې هغه، د ځانښودنې په موخه په لنډو سفرونو کې قرآن کریم له ځان سره ګرځاوه، هغه د خپل مرګ پر ورځ بهاولپور ته له ځان سره قرآن کریم هم وړی ؤ، په دې څو ساعته سفر کې هغه دومره وخت نه درلود چې د قرآن حکیم تلاوت وکړي، له بده مرغه چې په هماغه الوتکې کې د قرآن عظیم نیمایي برخه سوځیدلې وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ضیاء د خپلي دفاع لپاره په پاکستان کي د دیني مدرسو شمېر، له سلګونو څخه زرګونو ته پورته کړ، له ملایانو او مدرسو یې مالي او سیاسي ملاتړ وکړ. (د ډېرو مالوماتو لپاره د لیکنو ۸مه برخه ولولئ.)
ضیاء د پاکستان خلک د دین په نوم غولول، په داسي حال کي چي نه یې اعمال اسلامي وو او نه یې قیافه. د اسلام په ډېرو مذهبونو، په ځانګړي توګه په حنفي، مالکي او حنبلي مذهبونو کي د ږیرې کلول حرام بلل شوي دي خو هغه خپله ږیره د مرګ تر ورځي پوري کلوله.
جنرال ضیاء له خپل مرګ څخه څو ساعته وړاندې په بهاولپور کي له دوو تنو امریکایانو سره یو ځای د عیسویانو د یوې ښځینه راهبې فاتحې ته ورغلی ؤ.[1] ضیاء په دې نه پوهېده چي په اسلامي شریعت کي د یو نامسلمان کس مړي ته د مغفرت غوښتل جایز نه دي.
له دې وړاندې په ۱۹۸۲ز. کال کي کله چي د شوروي اتحاد د کمونست ګوند عمومي منشي مړ شو نو جنرال ضیاء د هغه ستر کافر په جنازه کي برخه واخیسته خو د ملایانو په خوله یې افغانانو ته ویل چي که له یو کمونست سره مو جامې ولګېږي خپل کالي څیرې کړئ.
کله چي جنرال ضیاء له خپلي میرمني سره په ۱۹۸۲ز. کال کي امریکا ته په سفر تللی ؤ نو د ښه راغلاست د مراسمو پر مهال، **د امریکا ولسمشر د ضیاء ښځي ته په لاس ستړي مه شي ورکړه او جنرال ضیاء د ریګن ښځي ته د ستړي مه شي پر مهال د ډېرې چپلوسی له امله په ملا کي ټیټیږي.**
دا د جنرال ضیاء مسلماني ده چي د ده مسلمانه ښځه یو عیسوي ته لاس ورکوي؟ او دا څرنګه مسلماني ده چي یو مسلمان یوې نامسلماني ښځي ته په ملا کي ټیټیږي؟ حال دا چي دواړه کړني په اسلام کي حرامي دي، تر دې چي یو مسلمان نه شي کولی بل مسلمان ته د ستړي مه شي پر مهال (رکوع ته ورته) په ملا کي ټیټ شي.
**لاندي لینک کي د جنرال ضیاء او د هغه د میرمني ناسلامي حرکتونه وګورئ:**
https://www.youtube.com/watch?v=aGcNCrlAmOI

ډېرو ته د جنرال ضیاء مسلماني لا پخوا څرګنده وه هغه مهال چي په ۱۹۷۰ز. کال کي یې په اردن کي په زرګونو فلسطیني کډوال ووژل.[2] مرحوم یاسر عرفات ویل:«په پاکستان به کله هم باور ونه کړي او نه به ضیاء ته ښننه وکړي.»[3]

د جنرال ضیاءالحق نوم د ده د غداریو، منافقت او غولونو له امله، د هغه د مخالفینو لخوا پر ضیاءالغدار او ضیاءالباطل بدل شوی دی. د ضیاءالباطل ستاینوم (لقب) د افغانستان، د لوی شاعر، لیکوال او سیاستوال، اکاډمیسین مرحوم سلیمان لایق لخوا ورکړی شوی ؤ چي کټمټ یې د جنرال ضیاء له شخصیت سره سمون درلود.
ضیاء له دې کبله غدار بلل کیده چي له هر چا سره یې له منافقت څخه کار اخیست، په ځانګړي توګه له ذوالفقارعلي بوټو سره یې سخته غداري وکړه، نوموړی د بوټو لخوا د پاکستان د پوځ د ستردرستیز مقام ته ورسول شو او د بوټو تر ټولو باوري کس ؤ خو لږه موده وروسته یې پر بوټو پوځي کودتا وکړه، هغه یې د پاکستان له لومړي وزارت څخه ګوښه او واک یې په خپل لاس کي واخیست. (۱۹۷۷ز)
بده خو لا دا چي کله ضیاء پوه شو چي په ټاکنو کي ذوالفقارعلي بوټو بیا ګټونکی دی نو د قتل دسیسه یې ورته جوړه او هغه یې په ناځوانی سره اعدام کړ.
ضیا خپلو نږدې کسانو ته ویلي وو:**«که ذوالفقارعلي بوټو خوشی شي نو بېرته به راشي او ما به اعدام کړي.»**[4]

---

[1]: جنرال ضیا یا جرنیل سیا (ضیاع الحق یا ضیا الباطل) کی بود؟ نوشتهٔ ناصر اوریا، رسانه های اجتماعی.
[2]: د ډېرو مالوماتو لپاره د همدې لړی ۷مه برخه ولولئ .
[3]: جنرال ضیاالحق ومړ خو د تندروه مفکوري میراث یي پاتي دی، بهروز خان، ۲۰۲۰، امریکا غږ ډیوه:
https://www.voadeewanews.com/a/gen-zia-ul-haq-pakistan- afghanistan/5548192.html
[4]:https://dailytimes.com.pk/735/the-tragic-life-death-of-shahnawaz-bhutto/#google_vignette


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

کله چې ضیاء واک تر لاسه کړ نو په یوه وینا کې، (د دې لپاره چې خلک وغولوي) ځان یې له ذوالفقارعلي بوټو او نورو، ډېر ټیټ وباله ویې ویل چې «زه نه د بوټو په څېر اغېز لرم، نه د ایوب خان د شخصیت غوندې شخصیت او نه د لیاقت علي خان په څېر مشروعیت لرې».[5]

هغه مهال چې لومړی وزیر بوټو لا نه ؤ اعدام شوی او د هغه لور بې‌نظیر بوټو او میرمن یې په زندان کې زنداني وې نو ضیاء نړۍوال او پاکستانیان په دې خبره غولول چې بوټو نه اعداموي، بې‌نظیره د ضیاء د منافقت په هکله لیکي چې «له زندانه بهر، د پیپیپي ګوند مشرانو ما ته پیغامونه رالېږلي وو **چې ضیاء له سعودي عربستان، اماراتو او نورو هېوادونو سره پټه ژمنه کړې ده چې زما د پلار د اعدام حکوم به راکم کړي خو د ضیاء مخینه د قانون ماتولو او وعده خلافیو ډکه وه.»**[6]

د جنرال ضیاء بله غداري دا وه چې کله هغه کودتا وکړه نو د (مارشل‌لا) د مشر په توګه، د واک ترلاسه کولو وروسته، د پاکستان پر ملي ټلویزیون راڅرګند شو، هغه ژمنه وکړه چې په راتلونکو ۹۰ ورځو کې به بېړنۍ پارلماني ټاکنې ترسره کړي.
**هغه وویل چې زما یوازینۍ موخه د آزادو او عادلانه ټاکنو تنظیمول دي چې د همدې کال په اکتوبر کې به ترسره شي او له ټاکنو وروسته به واک د خلکو ټاکل شوي استازي ته وسپارل شي. زه په ټینګه تضمین کوم چې له دې پرېکړې به وانه وړم.»**[7]
جنرال ضیاء چې د ټاکنو ټینګه ژمنه یې کړې وه، تر پای پورې یې ټاکنې ونه کړې او ۱۱ کاله په واک کې پاتې شو.

د جنرال ضیاء یوه غداري دا وه چې کله بې‌نظیر بوټو د خپل ورور، شانواز بوټو جنازه له فرانسې څخه پاکستان ته وړله نو ضیاء ژمنه کړې وه چې بې‌نظیره به نه بندی کوي خو هغه یې بندي کړه، بې‌نظیره لیکي:**«زه په کراچۍ کې پوځي حکومت ونیولم او ۵ ورځې یې بندي کړم، سره له دې چې ضیاء په رسنیو کې تضمین ورکړی ؤ چې ما به د شاه نواز د جنازې د راوړلو پر مهال نه نیسي او د سېند ایالت عمومي حاکم هم ویلي وو چې پاکستان ته د بې‌نظیر بوټو تلل راتلل آزاد دي.»**[8]

د جنرال ضیاء منافقت، نه یوازې د ننه په هېواد کې محدود ؤ، بلکې د هېوادونو په کچه یې هم درواغ ویل، هغه دوست او دښمن هېوادونه غولول چې د هغه د ښکرورو درواغو څو بېلګې وړاندې کوو:
په ۱۹۸۲ز. کال کې هغه مهال چې د شوروي اتحاد د کمونسټ ګوند عمومي منشي مړ شو نو جنرال ضیاء د هغه په جنازه کې د ګډون لپاره مسکو ته ولاړ، هلته د شوروي د بهرنیو چارو وزیر **(آندره ګرومیکو)** او نوي عمومي منشي **(یوري آندروپوف)** له ضیاء سره لیدنه وکړه، آندروپوف له دې امله چې پاکستان له افغان یاغیانو څخه د افغان حکومت پر وړاندې ملاتړ کوي خپله خواشیني څرګنده کړه.
جنرال ضیاء چې په هېڅ ډول ټکیو او درغلیو نه ؤ ترلې نو د آندروپوف لاس یې ونیو ویې ویل:**«ښاغلي عمومي منشي! باور وکړه چې پاکستان له شوروي اتحاد سره بې له ښو اړیکو بل څه نه غواړي.»**

---

[5]:*Haqqani, Husain* (2010) [2005], *Pakistan: Between Mosque and Military,* Carnegie Endowment.
*https://books.google.com/books?id=nYppZ_dEjdIC&pg=PA111*

[6]: بې‌نظیر بوټو: دختر شرق. ۴۳مخ
[7] :*Pakistan, a Modern History. Ian Talbot, 1998. p 256*
http://books.google.com.af/books/about/Pakistan_a_Modern_History.html?id=ZBs0HdpKuaQC&redir_esc=y
[8]: بې‌نظیر بوټو: دختر شرق. ۳۹۶مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالېږلو مخکې په خیر و لولئ

د شوروي د بهرنيو چارو وزير ګروميکو وايي چې «د ضياء صداقت مونږ قانع کړو خو د ضياء کړني د هغه د خبرو پر خلاف وې.» [9]

جنرال ضياء له خپل بادار، امريکا سره هم درغلۍ کولې، په ۱۹۸۲ز. کال کې د امريکا ځانګړی استازی، ژباړن او تجربه‌لرونکی ډيپلومات **(ورنن والټرز)** له جنرال ضياء سره ليدنه درلوده، هغه د ولسمشر ريګن يو ليک وروسپاره، په ليک کې ليکل شوي وو چې پاکستان د اټومي وسلو د جوړولو په هڅه کې دی.
ورنن والټرز وايي چې **«جنرال ضياء په ډېر ادب او آرامۍ سره وويل چې د اټومي وسلو د څېړنو او پراختيا په اړه مالومات نه لري. ويې ويل چې له خپلو چارواکو به پوښتنه وکړي.»**
**ورنن والټرز له جنرال ضياء سره له ليدنې وروسته د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ته وليکل:«يا خو هغه رښتيا هم په دې موضوع نه پوهيږي او يا هم تر ټولو لوی وطنپال دروغجن دی چې ما تر اوسه پل داسې څوک نه دی ليدلی.»**[10]
دا وې د جنرال ضياء د شخصيت څو بېلګې، سربېره پر دغو منفي خويونو، شوني ده چې جنرال ضياء ځيني ښه او مثبت خويونه هم لرل خو د افغانستان د سرلوری، خپلواکی او سوکالۍ په تړاو يې هيڅ ډول مثبت نيت او موخه نه لرله، د هغه د بد نيت د ثبوت لپاره د ده هماغه لومړنی ارمان او شعار بسنه کوي چې ويلي يې وو:**«افغانستان بايد ورو، ورو وسوځول شي.»**[11]

نېټه: ۱۴۰۵/۲/۲۱ل. ل

**نور بيا**

[د ښاغلی محمد انور اخګر نوري ليکني په دی لينک کې ولولی.]

[9]:Pakistan: Zia and After, Hyman, et al, pages 35-36: https://books.google.com.af/books?id=cjPgESaC-7sC&pg=PA21&redir_esc=y#v=onepage&q&f=false
[10]: جنرال ضيا الحق بزرگترين دروغگو، يا...!؟» - راديو آزادی https://da.azadiradio.com/a/24561281.html
[11]: تلک خرس، ډګروال محمد يوسف او مارک ادکين. فارسي ژباړه: ډاکټر نثار احمد صمد. ۲۹مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ